آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۳/۰۸

# سترګې ایستل او د نوبل جایزه

## د مارچ اتمه، د ښځو نړیواله ورځ

**سرېکال هم لکه د تېرو کلونو په شان غوارم د ښځو د نړیوالي ورځې په پار ګڼې داسې مقالې ولیکم چې د مېرمنو په باب زموږ د ټولنې منفي او مثبت افکار څرګند کړي، څو وتوانېږم چې په ټولنه کې او د خلکو په افکارو کې د افغان مېرمنې اوسنی حالت خلکو ته وښیم. په مثبتو پاینټونو به یې خامخا ویاړو او په منفي به یې هغه ځوک زورېږي چې د ښځو د حقونو پلوي دي، پر متضررې خو هسې هم سور اور بل دی. د دې زورېدو او اور بلېدو تر څنګه به مو ټوله هڅه دا وي چې د مېرمنو په باب د خلکو د اذهانو منفي اړخ په مثبت ډول بدل کړو.**

**که زما په مقالو کې د ټلې منفي خوا درنه وي، ما به نه ملامتوئ، همدا مو خلک دي، همدا مو ټولنه ده او همدا یې د ښځو په باب نظر دی چې باید د بدلولو هڅې یې ګړندی کړو. زه چې د ښځو په باب له دوی سره د تاوتریخوالي او منفي کړونو یادونه کوم، اصلي موخه مې د ښځو د غږ جګول او له دې ناوړه حالت او ستونزو نه د دوی ژغورل دي.**

**افغان مېرمن:**

**د مارچ د اتمې تر لمانځلو او ډالیو نه مو زه درتېره یم،**

**مه مې وهئ!**

**مه مې رټئ!**

**مه مې ښکنځئ!**

**نور څه مه کوئ، د انسان په سترګه راته وګورئ!**

چېرې مې د یوې افغان مېرمنې په قلم په لیکل شوې مقاله کې لوستي وو چې:

«افغانستان د ښځو له پاره د یو داسې زندان حیثیت لري چې څلوردېرش سلوله لري او له زرګونو خواوو ښځې زورول کېږي اورنځول کېږي. زه د نړۍ په ترټولو ستر زندان کې له داسې انسانانو سره ژوند کوم چې هم جنایتکاران دي او هم د ټول عمر له پاره د ښځو ضد دریځ لري.

مخکې تر دې چې مورږ نړۍ ته راشو، مورږ ته دوسیه پرانستل شوې وي او یو شمېر خلک دنده لري چې درې وخته مورږ ته خپل ارشادات واوري او مورږ ته کربښې وباسي. پلار د ارشاد کونکو مشر وي چې له نورو نه په ترخه ژبه وایي:

ــ لورې!

ــ غږ دې باید د هلکانو تر غږ ټیټ او قدمونه دې د هلکانو له قدمونو ورو وي!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

له وړوکوالي راهیسې ویل کېږي چې کارونه او تګ مو باید ورو وي. اوس مې چې د عمر یوه برخه تېره شوې ده، غواړم چټکه ولاړه شم، نه کېږي او نارینه تر ما مخکې وي...

ورور مې داسې انګېرې چې خور یې په طبعي ډول یو ضعیف موجود دی او...»

له دې حقایقو داسې ښکاري چې د ښځو او نارینه وو ترمنځ توپیر موږ خپله رامنځته کړی دی او د همدغو توپیرونو په دایره کې ښځې بېځواکه او ضعیف مخلوق ګڼو او بیا یو نیم چې په همدې لړ کې نور هم د افراط لاره غوره کړي، نو بیا وایي چې:

«ښځې ناقص العقله دي»

پر نجونو او مېرمنو باندې مې د ظلمونو د سریال په لړ کې پخوا لیدلي او اورېدلي وو چې: شونډې، ژبه ، پزه او غوږونه پرې کول، د نوکانو او ویښتانو ایستل؛ خو د تېر یوه کال په اوږدو کې د دې ظلمونو پر ډولونو یو بل ډول او بله تجربه هم وراضافه شوه. د سترګو ایستل.



له بي بي سي نه په مننې سره، عکس له دوی نه راپور شوی.

دا رپوټ د تېرکال (۲۰۲۰) د اکتوبر پر اومه نېټه ورکړل شوی دی. په همدې باب د بي بي سي د رپوټ یوې برخې ته مو پاملرنه رااړوم:

«... وسله والو شاوخوا ځلور میاشتې وړاندې د غزني په ښار کې لومړی پر خاطرې ډزې وکړې او بیا یې د هغې دواړه سترګې و ایستلې.

اوس د کورنیو چارو وزارت سرپرست وایي چې د خاطرې پلار طالب و او پولیسو کې د خپلې لور دندې سره مخالف و.

مسعود اندرابي وایي، د خاطرې پلار له طالبانو سره په همغږی پر خپله لور برید کړی او د هغې سترګې یې ایستلې دي.

د غزني امنیه قومندانی له جنایي برخې سره د خاطرې د دندې اخیستو یوازې شاوخوا درې میاشتې وتلې وی چې برید پرې وشو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خاطره دا خبره مني چې پلار يې پوليسو کې د دې له دندې سره مخالف و خو داسې هم نه وايي چې پر دې شوي بريد کې يې پلار لاس درلود.

نومورې وايي، څلور مياشتې وړاندې يوه ورځ مازديګر مهال و چې له کاره د کور په لور روانه وه.
د خاطرې په وينا، کور ته له نږدې کېدو سره وسله والو پرې بريد وکړ، ډزې يې پې وکړې، سترګې يې ورنه و ايستلې او وروسته وتښتېدل.

خاطره له لومړنۍ درملنې وروسته د کابل د پوليسو روغتون ته د لا ډېرې درملنې لپاره ولېږدول شوه.
نومورې فکر کاوه چې سترګې به يې جوړې وي او يوازې پټۍ به پرې لګېدلې وي، خو له سترګو د پټيو له لېرې کېدو يوه اوونۍ وروسته وپوهېده چې نور به په خپلو سترګو ليدل و نه کړي.

له دغو ټولو سختيو او رنځ ګاللو سره ـ سره خاطرې بيا هم پرېکړه کړې ده چې په پوليسو کې دندې ته دوام ورکړي.

خو له نسبي درملنې وروسته چې د غزني قومندانۍ ته ورغله، د هغې په وينا ورته وويل شول چې اوس په سترګو نه وينې او بايد په کور کېني...»

له دې غميزې سره هممهاله يوې ښځې د نوبل ادبي جايزه ګټلې ده. او که موږ د خپلې ړندې کړای شوې افغان مېرمنې او امريکايي نوبل جايزه ګټونکې مېرمنې پرتلنه وکړو، بايد ووايم چې:

دواړه ښځې دي، دواړه په دې نړۍ کې په يوه وخت کې ژوند کوي؛ خو توپير يې دا دی چې موږ ښځې بيسواده ساتو او که لږ تکل يې وکړ، سترګې يې باسو او د نورو هېوادونو خلک يې ښونځي او پوهنځي ته لېږي او ښځې يې دومره زدکړې کوي چې د نوبل جايزې ترلاسه کوي.

په همدې پېښې پورې اړوند، ګران دوست هادي په خپله فيسبوک پاڼه کې داسې وليکل:

«نن امريکايي شاعره لوئيز ګلوک د دوه زره شلم ۲۰۲۰ کال د ادبياتو د نوبل د جايزې وړونکې اعلان شوه.

ميرمن ګلوک په ۱۹۴۳ م کال په نيويارک کې زيږدلې ده.

ميرمن ګلوک تر دې دمخه پر ۱۹۹۳ کال د پوليتزر په نوم د شعر نړيواله جايزه هم خپله کړې وه.

د ميرمن ګلوک د شعرونو دولس مجموعې تر اوسه خپرې شوېدي.»

او ما (آصف بهاند) په کامنت کې داسې ورته وليکل:

«نور خلک د لوست او زدکړو امکانات ورته برابروي، ځکه د نوبل جايزې ګټي،

موږ يې د غيرت؟ د پاليسۍ له مخې سترګې پرې باسو.

سترګې ايستل او د نوبل جايزې اخيستل په يوه وخت کې پېښ شوي دي.

اوس بايد اټکل وکړای شو چې زموږ ټولنه او خلک د فکري ودې په کومه پوړۍ کې دي.»

لرې نه، همدا تېر کال د سولې مشورتي لويې جرګې په پرېکړه کې د ښځو په باب داسې راغلي وو:

د مشورتي لويې جرګې په پر يکړه ليک کې د ښځو پر حقونو داسې ټينګار شوی دی:«...

۱۳ ــ د سولې مشورتي لويې جرګې غړي ټينګار کوي چې په هېواد کې ښځې د نيمې برخې د نفوس په توګه بايد له خپلو حقوقي او سياسي موقف برخمنې وي او د سولې بهير په ټولو پړاونو کې رغنده رول او مشارکت ولري.

دغه راز د پرېکړه ليک په شلمه ماده کې داسې راغلي دي:

۲۰ــ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت موظف دی چې د ملي منافعو په رڼا کې ځانګړې لاربسووني وړاندې او د مذاکره کوونکي هيئت د لا پياوړتيا او ښه والي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. د سولې د بهير په ټولو پړاوونو کې د ښځو حضور تقويه شي.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

خو دا ټولې خبرې لکه تل د کاغذ پرمخ پاتې دي او له هغې ورځې تر نن پورې خو يې تطبيقول څه چې چا به د دويم ځل له پاره لوستي هم نه وي، خو چې د ښځو خبره شي، د مور ورځ شي او د مارچ د اتمې ورځ راورسېږي؛ بيا نو يو شمېر خلک لکه بادي توپ له ډاګه، ډاګه لګېږي او چغې وهي چې:

ـ د ښځو حقوق تر څه مخکې،

ـ ښځه مور ده،

ـ ښځه نيم بدن ده،

او ښځه...

خو په سبا ورځ هر څه هېر وي، بيا نجونو او ښځو ته د جنسي تندې له عينکو ورګوري.

**موږ سره ښايي چې خپل نيمايي بدن (ښځې)؛ په خپله غوڅ نه کړو،**

**موږ بايد د ښځو درناوی وکړو، د زدکړو او ښه ژوند زمينه**

**ورته برابره کړو، طبعي حقونه يې تر پښو لاندې نه کړو،**

**دويمه درجه انسان يې ونه ګڼو او...**

**او په تشو خبرو سره د مارچ د**

**اتمې ورځې د لمانځلو پر ځای،**

**عملاً داسې څه وکړو چې**

**ښځه د ټولنې له خوا،**

**له بل کړای شوي**

**اور نه را وباسو.**

(آصف بهاند)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولــئ